مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۰۷/۱۰

# که مو لاستی له ځانه نه وي، پردی تبر مو نه شي وهلی

که په افغانستان باندې د پاکستان لخوا د بریدونو په تړاو له هغو رسمي توجیهاتو څخه تېر شو چې د ترهګرۍ ضد او دفاعي عملیاتو نوم ورکوي، نو پوهېږو چې د افغانستان په خاوره باندې تحمیل شوې جګړه د پاکستان د امنیت سمولو په موخه نه، بلکې د افغانستان د نا امنه کولو کمپاین دی. د بریدونو وخت، پراخوالی او جغرافیایي شاخصونه ښيي چې موضوع له امنیتي اندېښنو سره تړاو نه لري، بلکې له پراخو ستراتیژیکو محاسبو برخه ده. تاریخي شالید ته په کتو پاکستان پوهېږي چې پوځي فشار او د زور سیاست نه یوازې د پاکستان امنیتي ستونځې نه دي حل کړي، بلکې په خپله یې د بې‌ثباتي رامنځته کېدو، افراطیت او متقابلې بې‌اعتمادۍ د ژورېدو لپاره امکانات برابر کړی دي. له همدې امله، دغه جګړه د امنیت د ټینګښت لپاره د حللارې وړاندې کولو پر ځای، د پاکستان د امنیتي ستونځو د دوام او پراختیا یو اساسي لامل ګرزېدلې او سیمه یې د لا ژورو بحرانونو پر لور سوق کړې ده.
په پراخ سیمه‌ییز چوکاټ کې د پاکستان تاریخي کړنو ته په کتو، دغه ډول بریدونه، که پاکستان ورته هر نوم او عنوان ورکوي خو موخه یې په افغانستان باندې د فشار او د دغه هېواد په سیاسي او امنیتي چاپېریال د اغېز اچولو هڅه ګڼل کېږي. دا هغه تکراري تګلاره ده چې پاکستان په خپل سیمه‌ییز سیاست کې څو ځله کارولې.

داسې ښکاري چې پاکستان د تیر په څېر یو ځل بیا د افغانستان په هکله خپله د ستراتېژیک عمق تګلاره د امریکا له پراخو ستراتیژیکو ګټو سره همغږې کړې او غوټه کړې ده؛ هغه لیدلوری چې د زور کارول یکې د "دفاعي ګامونو پورته کولو" په توګه توجیه کوي او له سیاسي تفاهم څخه مهار کولو او ستراتیژیک فشار اچولو ته لومړیتوب ورکوي. دغه همغږي د واشنګټن له وروستي دریز څخه نوره هم څرګنده شوه، چې د افغانستان په وړاندې د پاکستان بریدونه یې د مشروع دفاعي اقدام په توګه یاد کړی دی. له امریکایي لیدلوري سره د پاکستاني تګلارې همغږي کول دهغو خطرونو د بیا راژوندي کولو امکانات رامنځته کوي چې په ټوله سیمه کې د ثبات په نوم بې‌ثباتي زیاتوي.

تاریخ په دغه هکله یو مهم درس وړاندې کوي. په افغانستان کې د شوروي ځواکونو له نظامي یرغل څخه نیولی د ترهګرۍ په وړاندې د مبارزې په نوم د امریکا تر مشرتابه لاندې یرغل پورې، ښودلې چې د بهرنیو ځواکونو لخوا په افغانستان کې نظامي یرغلونه او بریدونه  د بریدکوونکو لخوا د اعلان شویو ستراتیژیکو موخو خلاف پایلې ورکوي او په وړاندې یې د مقاومت روایتونه پیاوړي کوي او د وسلهوالو ډلو د جلب و جذب لپاره یې لاره هواره کړې.  په همدغه تاریخي چوکاټ کې، د پاکستان وروستي بریدونه هم ورته منفي پایلې درلودلای شي: د پاکستان ضد احساساتو زیاتوالی، له کابل سره د ډیپلوماتیکو اړیکو لا پېچلتیا، او د غچ اخیستلو د دورې پیاوړتیا.

د افغانستان په هکله د پاکستاني تګلارې ژوره ارزونه دا هم څرګندوي چې د رنګونو او نیرنګونو بدلول اوږدمهاله ستراتیژیک  تسلسل دی چې پاکستان په تاریخي توګه په کابل کې واکمن حکومتونه د هند د نفوذ استازي ګڼي، خو په عین حال کې یې له غیر دولتي وسلهوالو او اپوزیسیون ډلو سره اړیکې ساتي او پالي.

د پاکستان دغه نیرنګي کړنه یو ځل بیا د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه ښکاره شوه، کله چې طالبان کابل ته ننوتل او د ولسمشري ماڼۍ د نیولو پر لور روان وو، خو پاکستان د هغوی د بدیل موندلو په موخه په هماغه ورځ د پاکستان د نړیوال هوایي شرکت (PIA) الوتکې کابل ته ددې لپاره واستوله چې د پخوانیو توپک سالارانو ځینې څېرې یکې اسلام اباد ته ولېږدوي. دغه لېږدونه او له جنګسالارانو سره د اوسنې تعاملات د همدغې اوږدمهالې ستراتیژۍ دوام څرګندوي؛ داسې ستراتیژي چې له واکمنو سره محدودې اړیکې ساتل کېږي او په هغو غیر دولتي لوبغاړو باندې تمرکز کېږي چې په راتلونکې کې د نیابتي جګړو لپاره د وسیلو په توګه کارېدلای شي.

که په افغانستان کې د پاکستان موخې ربښتیا هم امنیتي وای، نو تلپاتې امنیت د هوایي بریدونو، د افغانستان د حاکمیت د نقض، او  د خپلو کورنیو نیمګړتیاو او امنیتي ستونځو په تړاو  افغانستان ته د پړې ګوته په نیولو نشي تأمینېدای. برعکس، پاکستان باید افغانستان د ستراتېژیکو لوبو د ډګر پر ځای د یوه خپلواک او برابر ګاونډي هېواد په توګه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

ومني. د ګډو امنيتي اندېښنو د حل تلپاتې لاره د حاکميت په ماتولو او د زور په کارولو کې نه بلکې په خبرو اترو، متقابل درناوي، او سياسي تعامل کې ده.

له شک پرته د افغانستان په وړاندې د پاکستان د سياست تاريخي تسلسل ښيي چې د افغانستان د بېثباته ساتلو عنصر يکې يو ثابت او تلپاتې ستراتېژيک ځای لري. البته بنسټيزه پوښتنه دا ده چې افغانان ولې له تېرو پنځو لسيزو راهيسي په پرلهپسي ډول خپلمنځي اختلافات هغې کچې ته رسوي چې بهرني لوبغاړي وکولای شي خپلې ستراتېژيکې موخې او رقابتونه زموږ د خاورې او زموږ د خلکو د سرونو په بيه پر مخ يوسي؟

زموږ د متواترو ستونځو دوام يوازې د پاکستان يا هم بل پردي هېواد د ناوړه ارادو پايله نه ده او ليکوال ددې پلوي هم نه کوي چې يوازې پاکستان يا هم بل پردي هېواد ته زموږ د هرې تراژيدي په تړاو د پړې ګوته نيول به زموږ ستونځه حل کړي. له څو لسيزو راهيسي زموږ د حکومتولي نيمګړتياوې، سياسي مخالفتونه د ستونځو د حل لپاره د سوله ييزو ميکانيزمونو په رامنځته کولو کې زموږ سياسي او ټولنيزه تشه او د ملي اجماع نشتوالي پرديو لاسوهنو ته لاره هواره کړې ده. هر څومره چې په افغانستان کې مشروع سياسي ثبات، ملي يووالی، او د دولت ظرفيت پياوړی شي، هماغومره به د بهرنيو لاسوهنو ساحه تنګه او د اغېز کچه يې را کمېږي.

پاکستان، د خپلو ستراتيژيکو محاسبو له مخې، هر ځل هڅه کړې چې په افغانستان کې له بېلابېلو سياسي او جنګي ډلو سره اړيکې وساتي او د اړتيا پر مهال يې د نفوذ د وسيلې په توګه وکاروي. پوښتنه داده چې ايا خپلو نيمګړتياو ته له متوجه کيدو پرته يوازې پاکستان ملامتول، د ستونځې د بشپړ انځور وړاندې کوي؟ زما په آند نه، قطعاً نه. تر هغو چې افغانان د خپلو اختلافونو د حل لپاره په ملي خبرو، سياسي زغم او متقابل باور رامنځته نکړي، تل به بهرني لوبغاړي له همدغو تشو او درزونو څخه د خپلو ګټو لپاره استفاده کوي. بهرنی لاسوهنه هغه مهال اسانه کېږي چې کورني درزونه، بېباوري او سياسي انحصار موجود وي.

اساسي پوښتنه ښايي دا نه وي چې پاکستان ولې دا کار کوي؟ ځکه هر دولت تر ډېره خپلې ملي ګټې تعقيبوي. بله اصلي پوښتنه دا هم ده چې موږ افغانان ولې لا هم داسې سياسي چاپېريال نه شو رامنځته کولای چې بهرنيو استخباراتي شبکو ته د افغانانو د استخدام، تمويل او يو د بل پر وړاندې د درولو فرصت ترلاسه نکړي؟

که افغانان وکولای شي خپل اختلافونه د خبرو، مشارکت او ملي اجماع له لارې حل کړي، د هر بهرني هېواد لپاره به د نيابتي ډلو جوړول او پالل خورا ستونځمن شي. له همدې امله د پاکستان پر سياست نيوکه مهمه ده، خو تر هغې مهمه دا ده چې خپلو نيمګړتياوو ته هم په هماغه اندازه صادقانه او انتقادي نظر ولرو. يوازې په دې صورت کې به د تاريخ د تکرار مخه ونيول شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ